مسئوولیت متن و شکل بدوش نویسندهٔ مضمون میباشد، عقیدهٔ نویسنده لزوماً نظر افغان جرمن آنلاین نمی باشد

واحد فقيري ۲۰۱۸/۱۰/۲۱

# اشلي جکسن: د کندهار حمله د طالبانو لپاره ستره کامیابي وه

مېرمن اشلي جکسن د اکتوبر پر ۲۰ په فارن پالیسي مجله کي لیکي ما په ۲۰۱۴ کي د جنرال رازق سره په کندهار کي ملاقات وکړ. پدې وخت کي، جنرال رازق د کندهار مقتدر کس وو. هغه په کندهار کي امنيت ټينګ کړی وو، او له پاکستان ئې د امریکائي عسکرو لپاره اکمالاتي لاره امن کړې وه. رازق د نورو افغان زورواکانو غوندي نه ښکارېدئ، ځکه هغه پدې وخت کي ۳۵ کلن ځوان وو. ډېره ئې خرېلي وه، او د یوه ځوان هلک څېره ئې وه.

کله چي ما د اداري فساد او صحرائي اعدامونو په اړه سوال تري وکړ، هغه سمدستي موضوع بدله کړه، او د امنیت په باره کي ئې بیان شروع کړ. د جنرال رازق وژل نه یوازي کندهار ناامن کړ، بلکي ټوله جنوب ئې متاثره کړ. همدا اوس په کندهار او غزني کي انتخابات ځنډول سوي دي.

د جنرال رازق ژوند د افغانستان سیاسي مشکلاتو او خرابیو یوه ښه بېلګه ده. ځیني جنرال رازق ته د ملي هیرو په سترګه ګوري، او ځیني نور ئې یو جنایتکاره بولي. هغه به طالب جنګيالي وژل، او جسدونه به ئې پر سړکانو باندي غورځول. جنرال رازق پر ځینو کندهاریانو ځکه ګران وو چي د پاکستان د مداخلو په اړه ئې په ډاګه خبري کولې. البته د نورو افغان زورواکانو په څېر د جنرال رازق شقاوت امنیت ټینګ کړی وو، خو د مخالفانو لپاره هغه د یوه قصاب حیثیت لاره. د جنرال رازق په تګ سره په سیمه کي یوه څرګنده امنیتي خلا ایجاده سوې ده. او په اغلب ګومان به طالبان هڅه وکړي چي د کندهار شاوخوا سیمي ټبرته لاندي کړي.

د افغانستان د سیاست یو جالب اړخ دا دئ چي هر څه پر یوه شخص باندي راڅرخي. د ۲۰۰۱ راهیسي، متحده ایالاتو په خپل ټول قوت جنګسالاران او زورواکان تقویه کړي دي، خو په عین زمان کي د ښه حکومتوالی، شفافو انتخاباتو، او ډیموکراټیک نظام تمه هم لري. دا ډول ستراتیژي په خپل ذات کي متناقضه ده، او مدام د خپل شکست باعث ګرځي. د دې پر ځای چي د سیاسي ثبات او سیاسي مصالحي لپاره اوږد مهاله پالیسي غوره کړي، متحده ایالات تل چټک او آني حل لاري غواړي. امریکا په سیسماتیک توګه د جنرال رازق غوندي خلک په افغانستان کي تقویه او غښتلي کړي دي، ځکه هغوی د امریکا د لنډ مهالو اهدافو او ګټو لپاره ثبات ایجادوي، خو د دې راز پالیسیو اوږد مهاله اثرات سخت وخیم وي، او په مستقبل کي د تشدد او غیر دیموکراټیک نظام او وارلاډیزم لپاره زهرجن او ورانونکي تخمونه ښیندي .

په افغانستان کي، د متحده ایالاتو پالیسي دا ده چي جنرال رازق غوندي کسان کولای سي چي طالبان لیري وساتي. د امریکا دا پالیسي سطحي او کوتاه نظره ده، ځکه امریکا د دغه راز خلګو د بشري له حقوقو څخه سرغړوني، جنګي جنایات، غیري قانوني معاملات ټول هېروي. امریکا پدې ښه پوهېږي چي د دغه راز زورواکانو تقویه او حمایت په افغانستان کي د ښه حکومتوالی مخه نیسي. د قوي او مشروع موسساتو د جوړولو خنډ واقع کېږي، او د یوه مسول او خدمتګار حکومت د جوړېدو پروسه تباه کوي .

البته، د امریکا لپاره مهمه خبره دا وه چي جنرال رازق کولای سوای چي انتخابات پر وخت وسي. د ۲۰۱۴ په انتخاباتو کي، رازق د اشرف غني په ګټه کمپین کاوه. جنرال رازق د انتخاباتي نظارين په خپله خوښه بدلول، د رایو پر وېشلو باندي ئې کنټرول لاره، او هغه کسان ئې توقیفول چي د ډاکټر عبدالله لپاره ئې کار کاوه. همدا اوس د جنرالرازق د حمایت د ګټلو لپاره سختي هلي ځلي رواني وې .

بله حیرانونکي مسئله دا ده چي د افغانستان پراخي سیمي د طالبانو تر کنټرول لاندي دي، او همدا واقعیت د اوسني انتخاباتو مشروعیت تر سوال لاندي کوي. د راجسترېشن ۳۳ ٪ فیصده مرکزونه تړل دي، او دا واقعیت د هیواد زیات



افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکني د لیکنيزې بڼي پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له رالیږلو مخکې په خیر و لولئ

خلګ د رايه روکولو څخه محروموي. دونه زيات خلکو ځانونه راجستر کړي ول چي د هر ساده کس شک راپاروي. په انتخاباتو کي د ټګي برګي چانس دونه زيات دئ چي همدا اوس لا غربي دپلوماتان د داسي نتايجو خبري کوي چي «دافغانانو پر معيارونو» برابر وي .

تېره اونۍ ما له يوه امريکايي دپلومات څخه د افغانانو لپاره د انتخاباتو د منل سويو نتايجو په باره کي پوښتنه وکړه، هغه راته په حسرت وويل،«داسي نتايج چي د جنګسالارانو تېول اولادونه په کښي کامیابه وي.» د دې امريکائي دپلومات د خبرو معنی دا وه چي همدا وارلاډان د افغانستان د ديموکراتيکي پروسي برخليک او جهت کنټرولوي، او داسي نتايج غواړي چي د دوی په ګټه وي. خو دا نتايج د هغو افغانانو غوښتنه نه ده چي زه خبري ورسره کوم، ځکه اکثره افغانان باور لري چي دا انتخابات به تر پخوانيو قلابي او بې اعتباره وي .

د افغانستان د جمهوري رياست د انتخاباتو په باب اټکل کول، که احمقانه نه وي، ريسکي خامخا دي. يقيني خبره دا ده چي د جمهوري رياست انتخابات به نهايت نوساني وي. همدااوس په افغانستان کي آوازه ده چي نور متحده ايالات د اشرف غني ملاتړ نه کوي، او همدې مسلې د هغه حريفان په حرکت راوستي دي. نوي ايتلافونه تشکيل سوي دي، او دا په داسي وخت کي چي افغانستان د اضافه بې ثباتي لپاره هيڅ اماده ګي نه لري.

د افغانستان په پراخو سيمو کي به انتخابات و نه سي. تقلب او ټګي برګي به په پېړخر وسي. زيات افغانان به د انتخاباتو په جريان کي ووژل سي، او نتايج به خامخا جنجالي وي. اوس نو، اصلي سوال دا نه دئ چي څوک به دا انتخابات وګټي، بلکی دا دئ چي آيا د افغانستان دوراغجنه ديموکراسي به د يوه بل انتخاباتي جنجال او فاجعي د هضمولو توان ولري او کنه .

پای


افغان جرمن آنلاین په درنښت تاسو همکاری ته رابولي. په دغه پته له موږ سره اړیکه ټینګه کړئ maqalat@afghan-german.de
یادونه: دلیکنې د لیکنیزې بڼې پازوالي د لیکوال په غاړه ده ، هیله من یو خپله لیکنه له راالیرلو مخکې په ځیر و لولئ